انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱٦/۱۲/۰۵

# پردی نوکر د کور دښمن

لیکونکی: م . ا . نګار ګر
ژباړه او لنډیز: انجنیر سلطان جان کلیوال

**دوهمه برخه**

اوس چی جناب نجیب  مایل هیروی د ایرانی بادارانو په ښنګ کی و لاړ دی او د خپل هویت په بربادولو د هغوی زړونه خوشاله کوی ( اوس ورسره لطیف پدرام هم ملګری شوید. ژباړن) او هغوی یی په خبره باور هم کوی نو د دی معنی داده چی ایرانیانو د خپل ستر تاریخ لیکونکی وصیت هیر کړیدی، همدارنګه مایل هیروی ته په کارده چی د غیرت متی را بډ وهی اوداسی یو سند پیداکړی چی که د چا ملت داسی په ګُلی ټوګه توهین کیږی او بیا د توهین شوی ملت یو فرد هماغه اهانت خپل ملت ته تکراروی د هغه د ګناه کفاره به څه شی وی؟ او که کفاره ونه لری نو اقلاً بیرته دی د خپل ملت ښنګ ته راشي او بخښنه دی و غواړی.
دویم سند: ښاغلی سعیدی سیرجانی د تا جکستانی لیکوال صدرالدین عینی د یادښتونو د ښکلی کتاب په سریزه کی لیکی: « ..... د فارسی ژبی ویونکی نن ورځ یواځی زما او ستا د وطن په جغرافیه وی حدودو کی منحصر نه دی ........ خوارزم، سمرقند غزنی اوکابل دی، کشمیر او لاهور او د هند پراخه برخه ده ...... همدا ستر فرهنګ  ددی سبب شو چی غربی نړی خوړونکی یی د یوی چاری په لته کی کړل او په دی دری وروستیو پیړیو کی و توانیدل چی دا ستر فرهنګ ټوټه ټوټه کاندی، پارسی و یونکی هندیان، د انګلیسی ویلو ته مجبور کاندی،بخارایی تاجکان د روسی ژبی د تورو په لیکلو مجبور کړی او تر دی ټولو درد منه لا داچی د غزنین ،بلخ او کابل اوسیدونکی د پښتو د لهجی په زده کولو سره د خپلو نیکونو د ارزښتناک میراث څخه بی برخی کاندی» (د یاد دښتونو مقدمه د ایران چاپ ۱۲ او ۱۳ مخ)
ما ګومان کاوه چی ایراني پوهانو په اصطلاح له لیری څخه لاسونه اور ته نیولی دی او زمونږ (افغانانو) ستونزی نشی درکولی، ولی ګورو چی زمونږ یو وطنوال کټ مټ هماغه خبری چی ښاغلی سعیدی سیرجانی او نورو په غیر مسؤلانه توګه کړی وی، دی ښاغلی ته په خوله کی ورکړی او وربانډی تکراروی یی. دا ښاغلی داسی غواړی وښای چی ګوندی په ایران کی د مهاجرت د یو څو کلو په تیریدو سره د دری ژبی د ادبیاتو لوړې پوړی ته رسیدلی دی نو ځکه د ایران د عاج له برج څخه د ژبی د سوچه والی دستور صادروی. ښاغلی سعیدی سیرجانی خو د پښتو ژبه د « لهجی » تر سرحده را ټیټه کړیده او ښاغلی نجیب مایل هیروی بیا د افغانستان دټولني لوی اکثریت د خپلي ژبي او فرهنګ نه په استبدادی بڼه محروموی او په دی دلیل چی د فارسی ژبه (خصوصاً د هغی ایرانی بڼه) له پښتو ژبی


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ځخه لوړه او اوچته ده نو د پښتو ژبې له ویونکو ( پښتنو ) ته وای چې ځانونه د واحدې ژبې د رنګریز په خُم کې ور غوپه کاندې چې د طاوس مرغه ترې جوړشي. واقعیت د خبرې خو دادی چې:
که چیرې په فارسي ژبه کې د عربي کلمو موجودیت ، په پښتو ژبه کې د فارسي د کلمو د موجودیت سره پرتله کړو، نو وبه ګورو چې په فارسي ژبه کې د عربي د کلمو د دخالت پله پرې ډیره درنه ده، نو اوس که کوم عرب له جناب سعیدي سرجاني او ښاغلي نجیب مایل هیروي نه وغواړي چې فارسي ژبه چې د دوی د پلار او نیکه ژبه ده پریدې او پر ځای عربي رسمي او ملي ژبه و ګرځوي، ایا دوی به دی ته غاړه کیدی تر ځو د واحدې ژبې په جنت کې ورداخل شي؟
دغه دواړه ښاغلي د پښتو ژبې رواجیدل یوه درد ناکه عملیه بولي او هغه د غربي نړۍ خوړونکو مکارګي پورې تړي. خو ښیا له دی ځرګند او ساده حقیقت منلو ته غاړه نه ږدي چې د فارسي ژبه د هندوستان په وچه کې د مغلي شاهانو د تسلط په وخت کې د درباري ژبې په توګه رواج شوې وه، خو کله چې د مغلو د واکدارۍ سلسله په هندوستان کې ختمه شوه ورسره سم د فارسي ژبې ستوری هم د هند په وچه کې را نسکور شو. دا دوه ښاغلي او د دوی نور ملګري ډیر بې ګټې او بې ځایه په افغانستان کې د دري ژبې په هکله دا ویرونکي خوبونهویني او ګومان کوي چې ګوندې دري ژبه هم افغانستان ته د ایران د فرهنګي نفوذ په نتیجه کې راغلې او که د نجیب مایل هیروي غوندې کسان دغه فرهنګي نفوذ تمثیل نه کاندي نو له افغانستان ځخه به هم د دري ژبې تغر ټول شي. نه ښاغلو! داسې نه ده. پیړۍ پیړۍ پخوا چې قطران تبریزي د ناصر خسرو بلخي په مخکې د شاګردۍ ګونډه وهله او د منجیک ترمیزي دیوان به یې وایه نو تبریزي به د نه پوهیدلو د مشکل په وخت کې د خسرو بلخي نه پوښتنه کوله او هغه به ورته ستونزه تشریح کوله، نولا هماغه وخت او له هغې هم وړاندې د تخار ،بلخ ، بدخشان، هرات او د بامیانو د سیمو خلکو یو دبل سره په دري ژبه خبرې کولې او همدا ژبه یې مورنۍ ژبه وه.
هو ښاغلو! دري او پښتو په افغانستان کې د دوه خویندو ژبو په څیر په همدې وطن کې زیږیدلي، راځواني شوي، پرمخ تللي، شریک ژوند یې کړی او همدې ګډ ژوند او پرمختګ ته به که خیروی په راتلونکې کې هم دوام ورکړي.
ښاغلی سعیدي سیرجاني چې « خوارزم، سمرقند او غزنین ، بلخ او کابل» د فارسي ژبې له کبله خپل وطن بولي مونږ افغانان د ده د ورور ولۍ له احساس ځخه مننه او قدرداني کوو خو په دې شرط چې افغانان هم حق ولري چې ایران خپل وطن و بولي. خوپه دې نه پوهیږم کله چې د روسانو دتجاوز په وخت افغانان مجبور شول چې د خپل هیواد له یوې ګوښې ځخه بل ګوښې ته سفر وکاندي، نو بیا په کوم دلیل په ایران کې د ښاغلي سیرجاني په وینا چې د شریکې فارسي ژبې له کبله د دوی وطن هم و، د دوی( افغانانو) له نامه ځخه د « پدرسوخته» لقب تر اوسه هم بیل نه شو؟ له بله پلوه غواړم په ډیره صمیمي توګه ښاغلي سیرجاني ته و وایم: تاسو چې د رودکي بخارایي نه د سید جمال الدین افغاني پورې ځه چې شاعران، پوهان او لیکوالان دي ایراني معرفي کړیدي، نو پوښتنه داده چې په دې ستر فرهنګ کې زمونږ ونډه او برخه کومه ده؟ ایا لومړی باید مونږ د ایران تابعیت په لاس راوړو، چې وروسته بیا سنایي غزنوي، عنصري بلخي، جامي هیروي او نور خپل ځانته منسوب کړلی شو؟
ایرانیان هغه مشر وروړته پاتې کیږي چې په زور سره یې د پلار په ټول میراث خیټه اچولې ده او زمونږ ټول فرهنګي لاس ته راوړني یې به ځان پورې تړلي دي. زما په اند دوی یواځې هغه وخت د ورورۍ خبره کولی شي چې زمونږ ټول غصب کړي حقونه بیرته مونږ ته را وسپاري. مونږ سعدي، حافظ، خیام او عطار نیشاپوري ایرانیان بولو خو دوی ...... زه ویریږم چې پنځوس کاله وروسته به خلیلي نه هم ایراني جوړ کاندي.

جناب سعیدی سیرجانی د انصاف تله به لاس کی واخله او فکر وکړه چی انکلیسی د برطانیی، آیرلینډ، امریکا، کاناډا، استرالیا او نیو زیلاند شریکه ژبه ده، خو د فرهنګ او ادبیاتو په برخه کی له دی هیوادونو څخه یوه هم هڅه نه ده کړی چی د بل هیواد شاعر او لیکوال په ځان پوری وتړی او هغه خپل وګڼی، ولی زمونږ ایرانی ورونه مولانا چی په بلخ کی پیدا شوی، په قونیه کی یی ژوند کړی او یواځی د لاروی په توګه نیشاپور ته تللی دی هم ایرانی بولی. ایا امریکا ته دا اجازه ورکوی چی شکسپیر په دی چی ژبه یی انکلیسی وه امریکا یی و بولی؟ تاسو چی د غوندی ستن د بل به وجود کی چوخوی او له هغه انصاف غواړی نو لږ تر لږه خو د ګنډلو ستن په خپل وجود کی هم چوخ کړی او بیا انصاف وکړی.

همدارنګه جناب مایل هیروی چی په افغانستان کی یی د دری ژبی د سوچه والی د پاره متی را بډ وهلی دی، مهربانی دی وکړی او یو کرت دی په ژوره توګه « واژه نامه فرهنګستان ایرانی » له نظره تیر کاندی او ودی ګوری چی زمونږ ایرانی ورونو د افغانی ورونو سره د مشوری او مفاهمی نه په غیر د تعصب او تنګ نظری له مخی له فارسی ژبی څخه د عربی کلماتو د لری کولو په منظور د بیهقی او مولانا په ژبه څه مسخری دی چی نه دی کړی؟ .........

یادونه ( محترم استاد نګار ګر په دی برخه کی د ژبپوهنې د میتودونو له مخی ډیر په زړه پوری مثالونه اود مثالونو تشریح وړاندی کړیده چی کاملاً د علمی ژبپوهنې په اصولو برابره او بیخی مسلکی بڼه لری او ممکن چی د هر چا پوهیدل به ورباندی څه ستونزمن وی نو ځکه می هغه مکمله را ونه ژباړله او په دا یو څو مثالونو می بسنه وکړه. په درنښت. ژباړن)

د فارسی ژبی دغه مشهور فرهنګ چی دریم چاپ یی په ۱۳۵۴ هجری کال کی له چاپه را ووت او لاندی ښاغلی یی غړی وو: محمدعلی فروغی، فروزانفر، داکتر احمد متین دفتری، ولی الله نصر، داکتر رضازاده شفق، داکتر قاسم غنی، رشید یا سمی، محمد تقی بهار، عباسی، اقبال اشتیانی، پور داود، محمد حجازی او نور، په سریزه کی داسی لیکی:

«چون واژه های مصوب فرهنگستان ایرانی مورد نیاز و علاقه فروان هم میهنان گرامی و فارسی زبانان و دانشمندان فارسی دان جهان است و دفتری که این واژه هارا در بردارد با آنکه دوباره چاپ و منتشر کردیده بود نایاب شده است، برای بار سوم با دیگر گونیهای ناچیز ازطرف فرهنگستان زبان ایرانی چاپ افست گر دید»

دوی په اونیو اونیو کښینی، جلسی کوی او بیا داسی یو څه بیرون ته را کاږی.

که چیری ایرانیان مونږ هم د دی فرهنګ او ادب مالکان بولی نو د دی فرهنګستان د کار په وخت کی دوی څونفره افغانان او تاجکستانی را بللی و چی دوی ته یی د کار په وخت کی ویلی وای چی د عربی د (سرطان) د کلمی پرځای د (چنګار) د کلمی ځای پر ځای کیدل او دی ته توجه نه کول چی د (ار) پسوند د فعل په ماضی ریښه کی راځی او له همه نه اسم جوړوی لکه له ( ګفت نه ګفتار) له ( کرد نه کردار) له ( نمود نه نمودار) او داسی نور ........ ولی د نوم یا اسم په اخر کی د دی پسوند (ار) راوستل نوی ترکیبات را منځ ته کوی او دا یواځی د همدی فرهنګستان کار دی.

که د (چنګ نه چنګار) ممکن وی چی جوړ شی نو د (ګوش نه ګوشار)، د (چشم نه چشمار) د (کفش نه کفشار)، د (خنجر نه خنجرار) او بلاخره د (پوز نه پوز دار) هم باید جوړ شی.

بلی ایرانیان حق لری چی له خپلی ژبی نه عربی (سرطان) وکاږی او فرانسوی (مرسی) د یوه ویاړلی سند په توګه فارسی ژبی ته ورداخل کاندی، اما مونږ افغانان حق نه لرو چی د هغی ژبی نه چی د دری ژبی خور ژبه ده (پښتو)

او د دی وطن د اکثریت ژبه ده د (پوهنتون) او د (پوهنځی) کلمی خپلی ژبی (دری) ته ورداخلی کړو. د جناب نجیب مایل هیروی لیکنه او د «دانشگاه» او « دانشکده» د کلمو په هکله جرو بحث او بلاخره « طرح پژوهش فرهنګ افغانستان در تاریخ معاصر» زما د باره د یو ه بله اړخه په زړه پوری دی. دا موضوعات چی د زمانی په دی خاصه مرحله کی چی افغانستان د پردیو سره د جنګ د زخمونو د مداوا فرصت لا تر اوسه نه دی تر لاسه کړی (او لاهم ټپل شوی جنګ په ټول شدت سره د افغان په کور کی روان دی. ژباړن) را پورته کیږی او ناځاپه د ګاونډی له کوره یو «مبارز» سر را جګوی او چیغی وهی چی : «ای خلکو د ټولو کارو نه د مخه خپله ژبه له هغو کلمو څخه چی وربانډی تحمیل شویدی پاکه کړی، که دا کار ونه کړی نو هغه یو څو کلمی به چی له هغی ژبی نه راغلی دی ستاسو ژبه او فرهنګ له منځه یوسی»

پوښتنه داده چی که زمونږ دغه ګاونډی هیواد زمونږ په فرهنګ کی دغسی لاسوهنه د نیک نیتی له مخی کوی نو دا کار یی ولی څو کاله د مخه نه کاوه؟ یعنی هغه وخت چی مونږ د روس سره په جنګ کی نه وو کیوتی، او یا هم څو کاله وروسته دغه اقدام نه کوی چی مونږ یوکرت بیا له جنګ او تحمیل شوی جګړی څخه فارغ شو او ملی یو والی ته ورسیږو. زه نه شم کولی ځانته به دی قناعت ورکړم چی د «طرح پژوهش فرهنګ» دی سیاسی هدف ونه لری، ځکه چی ښاغلی نجیب مایل هیروی د کار په پیل کی د (واحدی) ژبی موضوع خپل ورځنی کار بللی او هغه څوک چی د افغانستان په تاریخ کی یو څه معلومات لری پوهیږی چی دا مسئله په افغانستان کی د حساس ترینو مسائلو څخه ده او تل یی هغه وخت خپله بده څیره زمونږ خلکو ته را ښکاره کړیده چی په وطن کی نوری جدی او ضروری مسئلی روانی وی.

لومړی خو دا فکر کوم چی د (پوهنتون) او (پوهنځی) کلمو زمونږ په فرهنګ کی په ډیره ښه توګه ځای نیولی او زمونږ خلکو ورسره بی له کومی ستونزی بلدیت پیدا کړیدی. ښاغلی نجیب مایل او نور اندیوالان یی باید وپوهیږی چی دا دهغو تحمیل شوو په څیر نه دی لکه چی (دارالامان) یی په (دارالفنون) او بیا د کمونیستی استبداد په وخت کی (جلا ل آباد) په (ترون ښار) او (لشکرګاه) په (نواب ښار) واړوی، چی خلکو حتی د یوی ورځی د پاره هم دا تبدیل ونه مانه، حال داچی پوهنتون اوس زمونږ د خلکو ورځنیو خبرو اترو ته هم لاره میندلی او پوهنځی لا تراو سه هم د لیکلو په ساحه کی پاتی دی.

دویم داچی هره ژبه د خپلی کارونی په برخه یا ساحه کی له هغی ژبی څخه چی په یوه ځای کی ورسره موازی چلند لری متاثره کیږی، دا اثر ممکن چی سیاسی، اقتصادی او ټولنیز او یا هم یواځی فرهنګی وی. د مثال په توګه ایران هم په نظامی ردیف کی ځنی بی بیخه او بی بنیاده کلمی لکه (سرتیپ) او (تیمسار) لری چی د (تیمسار) د کلمی په هکله ډاکتر محمد معین ایرانی پخپله لیکی: « این لغت از برخاسته های فرقهء (اذرکیوان) است که بار دیگر در عصر ما متداول گردیده. ( فرهنګ معین ج ۱ ص ۱۱۸۳).

د دوهمی برخی پای

نور بیا